تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپیلي، تولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه

ګل آغا احمدي وردګ

# د یوې بلې پریکړې اړتیا

په دې وروستیو کې د افغانستان د ترافیک پولیسو د ادارې له خوا د ترافیکي خطراتو د مخنیوي په موخه یوه پریکړه صادره شوې ده چې په هیواد کې موټر چلوونکو او د موټرونو د مخ سیټ کښیناستونکو ته د امنیتي کمربند تړلو او د موټرو خاوندانو ته په خپلو نقلیه وسایطو کې د اور وژنې آلې یا Fire Box د نصبولو امر کوي چې په خپل ځای یوه ښه پریکړه ده او هیله ده چې د ترافیکو پولیس به د موټر چلوونکو، چارواکو او عامو وګړو د همکارۍ په نتیجه کې د دې پریکړې د بشپړ عملي کولو په برخه کې بریالي شي او زموږ یو زیات شمیر هیوادوال به له دې درکه د پیښېدونکو ترافیکي خطرونو په وړاندې مصؤنیت تر لاسه کړي.



په دې کې شک نشته چې له ترافیکي اصولو څخه سرغړونه، د موټرونو ګړندي چلول، د سړکونو تنګوالی، د چپ لاس موټرونو شتون، په واټونو باندې د زورواکانو او بهرنیو عسکري وسایطو خپلسري، د ترافیکو د کنټرول کمزوری سیستم، د ترافیکي ښنو کموالی او له هغو سره د ښاریانو نابلدي، په ښارونو او لویو لارو کې له لازم حد څخه د ترافیکي وسایطو زیاتوالی، بې احتیاطه موټر چلونې، د ځینو ډریورانو له خوا د نشه یي توکو استعمال، د وګړو له لورې د ښاري اخلاقو په پام کې نه نیول، د سواد د کچې ټیټوالی او داسې نورو عواملو زموږ د ټولنې وګړي له دې درکه له سختو ګواښونو، بې نظمیو او ډول ډول خطرونو سره مخ کړي دي او هره ورځ د هیواد په کچه سلګونه لویې او وړې ناوړه ترافیکي پیښې رامنځته کیږي چې په پایله کې یو شمیر هیوادوال د مړینې او ټپي کیدو له ګواښ سره مخ کوي.

د جګړې، نا امنیو، کمزوري حکومتي سیستم او ځینو عواملو د شتون له کبله تر دې دمه په هیواد کې د ترافیکي وسایطو د شمیر په هکله حقیقي احصاییه وجود نه لري او هر اړوند ارګان د خپل اټکل له مخه دغه شمیره لږ یا ډیره

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپيلې، توليزه او فرهنګي ویب پاڼه

ښيي. د يو شمير اټکلونو له مخې داسې معلوميږي چې همدا اوس تر يو ميليون زياتې ترافيکي واسطې د افغانستان په ښارونو او واټونو باندې ګرځي را ګرځي چې د همدې اټکلونو له مخې څلور لکه يې يوازې د کابل په داسې ښار کې فعاليت کوي چې د څلويښت زره نقليه وسايطو ظرفيت لري او د هرې ورځې په تيريدو سره په دغه شميره کې زياتوالى راځي ځکه چې اداري فساد ، د ماليې يا ټکس د اندازې کموالى، د ترافيکي وسايطو د کنټرول د يوه پياوړي ملي سيستم د نشتوالي او داسې نورو عواملو له کبله د نقليه وسايلو هر سوداګر او هر دولتي او غير دولتي ارګان پرته له دې چې د هيواد ويجاړ ترافيکي سيستم، محدود واټونه، اقتصادي وضعيت، د موټرو ځرنګوالى او د چاپيريال ککړتيا په پام کې و نيسي، پخپل سر بې شميره نوي او مستعمل موټرونه له نړيوالو مارکيټونو څخه هيواد ته را واردوي او په آسانه توګه يې د هيواد په ترافيکي سيستم کې داخلوي.




اوس مهال مختلف ارګانونه او اشخاص افغانستان ته له بهرنيو هيوادونو څخه ډول ډول نقليه وسايط واردوي چې د حکومت ملکي او عسکري څانګې، په هيواد کې ميشت نړيوال ځواکونه، ملي سوداګر، چارواکي او داسې نور يې مهم اړخونه ګڼل کيږي چې افغانستان ته د سوداګريزو او کاري موخو لپاره د موټرونو په واردولو کې لوى لاس لري. پر دې سربيره د يو شمير ګاونډيو هيوادونو باربري نقليه وسايط هم په لنډمهالې توګه د هيواد په لويو لارو او واټونو تګ راتګ کوي او په عمده مارکيټونو کې د خپلو بارونو تر ښکته کولو وروسته بيرته خپلو اړوندو هيوادونو ته ځي. همدارنګه په ښارونو کې د يوه اغيزمن او عملي ترافيکي قانون له امله د موټرونو تر څنګ د هيواد په لويو او وړو ښارونو کې ګڼ شمير موټر سايکلونه، بايسکيلونه، ريکشاګانې، بګۍ، خرګاډي او داسې نور هم په خپلواک سر تګ او راتګ کوي، د دې ډول وسايطو لپاره کوم ځانګړې محدوديت نشته، د لارې د بنديدو هيڅ پروا نه کوي او د بې شميره لاس پلرونکو هټيوالو موجوديت د ښارونو بدرنګه حالت له بد څخه بدتر کړى دى چې له همدې کبله د هرې ورځې په تيريدو سره د ښارونو د چټليو ګراف په فوق العاده ډول مخ پورته روان دى.

هغه ستونزې او ګواښونه چې په هيواد کې مستعملو، د چپ لاس او زړو موټرونو زياتوالي او له ترافيکي قوانينو څخه د هغوى سرغړونې د افغانستان وګړو ته متوجه کړې دي، ډير زيات دي خو تر ټولو مهم يې په واټونو او ښارونو

تل افغان
www.talafghan.com
خبلواکه، ناپیلي، نوليزه او فرهنګي ويب پاڼه

کې بې شميره بې نظميو ته لاره پرانيستل، له ترافيکي قوانينو څخه سرغړونه، د يو زيات شمير وګړو ژوند په خطر کې اچول، د چاپيريال ککړتيا او له لازم حد څخه د ترافيکي وسايطو زياتوالی ګڼل کيږي چې دغه راز ستونزې له بده مرغه د ورځې په تيريدو سره په هيواد کې پراختيا مومي.

د دې لپاره چې په ريښتني توګه ذکر شوو ستونزو ته د حل لاره موندل شوې وي نو په هيواد کې د ترافيکو مسوولينو ته ښايي يوه بله اغيزمنه پريکړه هم وکړي هغه دا چې په يوه معين وخت کې دې ټولې هغه ترافيکي وسيلې چې چپ لاس اشترينګ او چپې خواته دروازې لري خپلو موټرونو ته ښي لاس اشترينګ او په ښي، خوا کې د سورليو د کوزيدو دروازې و لګوي او د ټاکلي وخت څخه وروسته دې د هيواد په کچه ټولې هغه ترافيکي واسطې او موټرونه و درول شي چې د نوې فيصلې په اساس يې د ترافيکو امر نه مني. د پريکړې بله برخه به دا وي چې د ټولو زړو ، مستعملو او چپ لاس موټرونو واردول بايد هيواد ته په غوڅه توګه بند شي او د نوو موټرونو واردول هم محدود شکل غوره کړي. د دې پريکړې بله برخه بايد داسې وي چې په سترو چارواکو ، ملکي او عسکري ادارو سربيره د نړيوالو ځواکونو په مسوولينو هم د دې خبرې منل اړين دي چې د افغانستان د ترافيکو قوانين په بشپړه توګه قبول او په واټونو باندې دې له روانو بې نظميو څخه ډډه وکړي. دا کار که حکومت او په ځانګړې توګه د ترافيکو پوليس د قوت، عجز، زاريو او يا هرې لارې کوي بايد تر سره او ټول اړوند اړخونه د قانون منلو ته چمتو کړي. همدارنګه د تصويري، چاپي، صوتي او بريښنايي خبري رسنيو له لارې دې د هيواد د ترافيکو مسوولين يو اوږدمهالی تبليغاتي پلان جوړ کړي او خلکو ته له دې لارې د عامه پوهاوي اغيزمن پروګرامونه وړاندې کړي.



د پايلې په توګه ويلی شو چې د افغانستان ترافيکي نظام اوس مهال د سختو بې نظميو ، ګډوډيو ، ګواښونو او چلنجونو سره مخ دی چې عوامل يې د ترافيکو کمزوری سيستم، اداري فساد او په ټوليزه توګه له هغوی سره د عامو وګړو ، چارواکو ، نړيوالو او ملي اداراتو بې پروايي ګڼل کيږي چې دغه سيستم يې نور هم کمزوری کړی دی. دا چې د ترافيکو پوليس ځينې وخت اوامر صادروي يوازې په اوامرو بايد بسنه و نه شي بلکي د هغې جدي تعقيب او څارنه

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپيیلي، ټولنيزه او فرهنګي ويب پاڼه

هم اړينه ده او تر ټولو مهمه دا ده چې د ترافيکو پوليس څرنګه وکولای شي چې ټول اړوند اړخونه د ترافيکي قانون منلو او احترام ته را جلب کړي نو هله به دا نظام پياوړی وي او په روانو ستونزو به بری و مومي.